DAILY
# ارادە

سال چهارم شماره ۱۰۷
شماره مسلسل ۴۶۶
چهارشنبه ۲۳ ثور ۱۳۸۳هـ ش
۲۳ ربیع الاول ۱۴۲۵ هـ ق
12 May, 2004

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

## والی هرات اعزام قطعات اردوی ملی را به هرات
## حرکت سلیقه یی برخی از مقامات درکابل خواند

یک روز بعد از دیدار حامد کرزی رئیس دولت انتقالی ازولایت هرات اسماعیل خان والی آن ولایت دریک کنفرانس خبری گفته است که مخالف جمع آوری سلاح ازنزد افراد غیرمسوول نیست اماتاکید کرد که نحوه اجرای برنامه خلع سلاح یا DDR میتواند درشرایط کنونی بهخلای قدرت ونا امنی درافغانستان بانجامد. وی گفت تعداد افرادیکه خلع سلاح میشوند به هشتاد فیصد میرسد ونیروهای جدید اردوی ملی نمیتواند امنیت را تامین کند.والی هرات همچنان گفت دولت تاهنوز نتوانسته برنامه کاریابی برای خلع سلاح شده گان را تنظیم کند واین خود میتواند درآینده عامل نا امنی شود. والی هرات که درجمع خبرنگاران سخن میگفت اعزام هزار وپنجصد تن ازنیروهای اردوی ملی به هرات را حرکت سلیقه یی

برخی مقامات درکابل خواند اما او ازافراد مشخص نام نگرفت. ص۲

## د بې وسلې کولو پروګرام عملي کول حتمي دي

د ولسمشر کرزي ویاند جاوید لودین په یوه خبري غونډه کې وویل چې د بې وسلې کولو پروګرام به هرو مرو عملي کیږي خو داسې نه چې هدف یې د مجاهدینو په نښه کول دي ده د سه شنبه ورځ وویل DDR هغه پروګرام دی چې د افغانستان خلک یې غواړي او د مجاهدینو په ګټه دی، جاوید لودین د خبرو پرمهال وویل چې اوس د وطن د بیا رغونې د جهاد وخت رارسیدلی او باید یو ملي نظام جوړ شي. پداسې حال کې چې د هرات د والي په څیر د ځینو جهادي ډلو او اشخاصو له خوا د بې وسلې کولو په وړاندې مخالفتونه په ډاګه دي جاوید لودین وویل چې اسماعیل خان له بې وسلې کولو سره مخالفت نه دی ښودلی بلکه یوازې یې خپل نظر څرګند کړی دی او د افغانستان خلک ځان ځانته نظرونه لري. ۲مخ

## له افغانستان سره د سیمیزو اقتصادي مرستو غونډه دوام لري

د قرغزستان په پایتخت بشکک کې د افغانستان د بیا رغونې په اړه یو دری ورځنی کنفرانس جوړ شوی چې د نړیوال بانک او د اسیایي پرمختیایي بانک د استازو ترڅنګ د افغانستان ګاونډي هیوادونه هم ګډون پکې لري د بشکک کنفرانس ته د مالیې د وزیرانو سربیره د دغو هیوادونو د ۲۰۰ په شمیر سوداګر هم واغلي دي. له افغانستان سره د سیمیزه اقتصادي مرستو تر نامه لاندې دغه کنفرانس د قرغزستان او د ملګرو ملتونو د پرمختګ د اداري په ګډو هڅو جوړ شوی او د افغانستان د استازیتوب اشرف غني احمد زی کوي. په غونډه کې په ځانګړې توګه د افغانستان د بیا جوړونې او د منځنۍ اسیا د هیوادونو ممکني اقتصادي مرستې څیړل کیږي. د دغه نړیوالې اقتصادي غونډې یو استازی ویلي چې په لومړۍ غونډه کې دری اجرائیوي ډلې جوړ شوی دي. دا دری ډلې افغانستان د سیمې د یوه نوي لوبغاړي په توګه اقتصادي سیاست او سوداګرۍ سره د هغه مرستې، ترانسپورټ او ترانسپورتي جوړښت په نامه نومول شوی دي. ۲ مخ

## انفجار یکبمب درمرکز ولایت کنر چهار تن را زخمی کرد

انفجار یک بم دراسعدآباد مرکز ولایت کنر باعث زخمی شدن سه افغان ویک سرباز نیروهای بین المللی کمک به امنیت شد این افراد برای اجرای برنامه ثبت نام رای دهنده گان به انجا سفر کرده بودند که درنزدیکی موتر حامل آنها بمبی که از دور کنترول میشد انفجار کرد. اسعدآباد جایی است که طالبان اخطار کرده بودند که جریان برنامه ثبت نام رای دهنده گان را درآنجا اخلال خواهند کرد.

د لوی او بښونکي خدای په نامه

## سرمقاله

## د DDR له پروګرام څخه سرغړوني د امن د خرابۍ پیل او زیاتوالی

پداسې حال کې چې زموږ خلك د جګړو له امله له نړیوال پرمختیایي بهیر څخه وروسته پاتې شوي دي له جګړو، جګړه بیزو وسایلو او جګړه مارانو څخه کرکه او نفرت لري تل یې دولت ته د وسلو د ټولولو او د دغه بهیر د تندولو په هکله پیشنهادونه د مطبوعاتو له لارې وړاندې کړي دي خو لاراوسه پورې د هیواد په هغو سیمو کې چې د بې وسلې کولو پروګرام پیل شوی دغه بهیر په پخه روان دی.
ولسمشر حامد کرزي هم د خلکو د انتقادونو او پیشنهادونو او پخپله د دولت د پروګرام له مخې د DDR د بهیر د تندولو په خاطر په قوماندانانو غږ کړی دی چې خپلې وسلې تحویل کړي د هیواد او خلکو د ابادۍ په خاطر یو بل جهاد پیل کړي د وسلو تحویلولو دغه جهاد به وکړای شي چې د هیواد او خلکو په ارامۍ کې ارزښتناك واقع شي. خو له بلې خوا د مرکزي دولت د دغه کلك تصمیم سره سره چې د وسلو د تحویلولو په برخه کې یې لري د هرات والي اسمعیل خان د تل د مرکزي اداري له اوامرو څخه د ډیرو نورو د سرغړونو ترڅنګ دا ځل بیا په رسا غږ وویل چې دولت باید له مجاهدینو څخه وسلې ټولې نه کړي ځکه چې له مجاهدینو څخه د وسلو ټولول په حقیقت کې د ناامنۍ او بې ثباتۍ د منځته راتګ سبب ګرزي.
د دولت د وسلو ټولولو د پروګرام او اسمعیل خان ترمنځ په نظر او عمل کې ډیر تفاوت لیدل کیږي.
که چیرې دولت د وسلو ټولولو روان بهیر تند نه کړي او په لومړي ګام په خپل ملي او بین المللي زور سره له سرغړوونکو قوماندانانو څخه وسلې ټولې نه کړي د وسلو نه ورکول سرکشه روحیه به د هیواد په نورو ولایتونو کې زیاته منفي اغیزه وکړي.
د هیواد د نورو سیمو قوماندانان د اسمعیل خان په څیر نظر یې وړاندې کړي او په حقیقت کې به د وسلو د ټولولو له بهیر څخه ځان شاته کړي.
بدبختي داده چې همدا اوس د هیواد په مرکزي او اطرافي سیمو کې د وسلو تیت والي د امن فضا خړه کړې ده که چیرې دولت د وسلو د ټولولو په برخه کې که جدي او غوځ اقدام څخه کار وانخلي داسې ښکاري چې ډ اوسني بهیر د غوښتنو په مقابل کې به ډیر منفي ځوابونه راوړاندې شي او امن او امنیت به د لا خرابیدو په لور حرکت وکړي او په نتیجه کې به بیا پروني خورونکي ګډوډۍ رامنځته کړي او لاسته راغلي بریاوې به مو بیرته له خاورې سره خاورې شي او د مرکزي دولت په وړاندې به د مخالفو ډلو او ګروپونو شمیر زیات شي.

## انفجار درخوست دوزخمی به جاه گذاشت

درولایت خوست درجنوب کشور دوتن دراثر یک انفجار یک ماین زخمی شدند. این حادثه درشمال شرق شهر خوست درولسوالی باک رخ داد. چند روز پیش نیز دراثر انفجاریک ماین درهمین منطقه هشت کودک زخمی شده بودند گروه های درگیر اززمان جنگ های داخلی افغانستان درین محل شمار زیادی ماین راکار گذاشته اند . بزرگان محل ازعدم توجه دولت بر ماین روبی درین منطقه انتقاد کرده وگفته اند درولایت خوست هیچ موسسه ماین روبی مشغول فعالیت نیست.

ورزش ضامن تندرستی ص۳

بزرگترین و بهترین به بگرام، چاریکار
جبل السراج، کاریزمیر و
چمتله نیز آمده است !
افغان بیسیم
پیشتاز زندگی شما
تماس های تانرا امروز آغاز کنید !
مراکز فروش سیم کارت و تاپ اپ کارت: مغازه ذبیح الله ملک زاده، بازار بگرام، چوک بازار چاریکار، بازار جبل السراج.

# کرزی شخصیت فرا قومی است

صلحجو

شماره های ماه حوت سال ۱۳۸۲ خورشیدی نشریهء خواندنی هفته نامهء کابل دیرتر از وقت معمول به دستم رسید. در سلسلهء خوانش مقاله های عمده و اساسی هر شماره نبشتهء (نامزدهای پرجاذبه در انتخابات تبارز نخواهند کرد) منتشرهء شمارهء تاریخی ۶ حوت مورد توجهء بیشترم قرار گرفت و آنرا به ولع فراوان به خوانش گرفتم.

تحلیلی را که نویسندهء گرامی به پیش کشیده ناشی از برداشتهای اوست از احوال و اوضاع جاری کشور و من در باره نمیپیچم، اما دربارهء برخی از سخنان نبشته، گفتنیهایی دارم که با خواننده گان عزیز هفته نامهء کابل در میان میگذارم.

در جایی از این نبشته میخوانیم: "شیوهء عمل رئیس دولت انتقالی در جریان لویه جرگهء تصویب قانون اساسی باعث گردید که محبوبیت وی در نزد بسیاری از مردم در مناطق جنوبی و شرقی افغانستان به شدت بالا برود. در حالی که همزمان نزد ساکنین سایر مناطق کشور تردید هایی در رابطه به فراقومی بودن و مطابقت گفتار و عمل وی به وجود آمد..."

با دریغ فراوان بایستی یاد آور شد که در نبشته های سیاسی - اجتماعی و حتی تاریخی چند دههء پسین نویسندگان ما اتهاماتی را که بر شماری از شخصیتهای ملی، سیاسی و اجتماعی میبندند، یکی از آنها اتهام گجستهء گرایشهای قومی و زبانی است که به زعم من اکثر با گرایشها و تمایلات منفی شخصی نویسنده گان بسته گی دارد.

شکی نیست که شماری از اشخاص و افراد متبارز دوران معاصر مبتلا به بیماری قوم گرایی بودند و یا اندیشه های واپس گرایانهء تفوق لسانی، قومی و یا سمتی را میپروراندند و همسان با خواسته های این گرایشها عمل میکردند اما داوری بر کرزی و شخصیت او از دیدگاه قومی منصفانه نخواهد بود و با واقعیتها سازگاری ندارد. در چنین موارد بایستی با نظرداشت به عملکرد شخص داوری کرد نه بر اساس گرایشهای ذهنی خود. از دوران تاسیس ادارهء موقت تا هم اکنون باید برخورد کرزی را با مسایل قومی یکایک بررسی کرد و پس از آن به داوری نشست. عملکردهای او را در این مورد میتوان بسیار فشرده، این گونه یاد کرد:

زمانی در آغاز دسمبر ۲۰۰۱م، در پایان مذاکرات بن ادارهء موقت افغانستان تأسیس گردید و کرزی به حیث رئیس این اداره تعیین شد، او پیش از ۲۰ دسمبر روز انتقال قدرت، از کندهار به کابل امد، در میدان هوایی بگرام از وی استقبال صورت گرفت، تمام همسفرانش از هفت هشت تن تجاوز نمیکرد. او میتوانست لشکری را از کندهار، ارزگان هلمند با خود بیاورد، اما چنین نکرد، زیرا او میفهمید که وی رئیس ادارهء موقت برای افغانستان تعیین شده است و بر همه مردم افغانستان بایستی اعتماد داشته باشد، اگر هر زمامداری بر ملت باور نداشته باشد تنها بر تیره و تبار و مردم سمتش اعتماد کند هیچگاهی نمیتواند از تمام کشور شود و مردم سراسر کشور او را به حیث زمامدار کشورش بپذیرند.

و زمانی هم جوانانی را غرض اموزش نظامی برای گروه محافظین رئیس دولت انتخاب میکردند، در انتخاب محافظین با دقت کامل تناسب قومی و منطقه یی در نظر گرفته شد و جوانانی را از اقوام و مناطق مختلف کشور به این گروه گزیدند. باالمقابل هموطنان شاهد بودند که طی دو دههء اخیر در کشور دهها لشکری به اساس ارتباطات تیره و تبار به میان آمدند و شماری از سکانداران توسط لشکری های تیره یی، تباری و منطقه یی شان محافظت میشدند و امروز هم ما میبینیم شماری از اراکین برجستهء دولت امروزین محافظین سمتی و تباری دارند.

پس از بررسی گارد محافظت شخصی او می ایم به دفاتر مربوط به ریاست دولت، کسانی که در تمامی قدمه های این دفاتر کار میکنند مربوط به همهء اقوام افغانستان و از مناطق مختلف کشور اند. همینسان کابینه و ادارات عمدهء دولتی را نیز میتوان به بررسی نشست، ارتباطات قومی وزراء و رؤسای ارگانهای اساسی دولت را همه میفهمیم از این ساختار نیز نمودار میگردد، که کرزی شخصیت فراقومی است و تا جایی که از کرده های او اشکار میگردد، وی به اندیشه های واپس گرایانه یی که، باعث پراگنده گی ملت و میهن شود، باور ندارد.

اکنون میپردازیم به بررسی مسأله شیوهء عمل رئیس دولت انتقالی اسلامی در لویه جرگهء تصویب قانون اساسی، که به گفتهء نگارندهء عزیز مقالهء هفته نامه کابل باعث بالا رفتن محبوبیت او نزد بسیاری از مردم در جنوب و شرق کشور شد و فراقومی بودن او را نزد سایر هموطنان زیر سوال آورد؟

اگر چه در این جا نویسنده شیوهء عمل رئیس دولت را توضیح نکرده است، اما با اشاره یی به مردم جنوب و شرق کشور هدف او درک میگردد و فهمیده میشود که نظر نویسنده به پشتو شدن سرود ملی در قانون اساسی است.

من در این باره از اعضای کمیسیون قانون اساسی و شماری از اعضای حکومت به تواتر شنیده ام که وقتی موضوع گنجانیدن سرود ملی در مسودهء قانون اساسی مطرح شد، از همان آغاز رئیس دولت به این عقیده بود که سرود ملی بایستی به دو زبان دری و پشتو باشد و این پافشاری او در تمام مجالس ادامه داشت. اما این که کمیسیون در مسودهء قانون اساسی پشتو بودن سرود را تأیید کرد و لویه جرگه آن را به تصویب رساند به رئیس دولت چی ربطی دارد و چرا حیثیت فرا قومی او را مخدوش سازد؟

ما و شما مشاهده کردیم که در جریان لویه جرگه، رسمیت محلی زبانهای، ازبکی، ترکمنی، بلوچی، پشه یی، نورستانی و پامیری و گنجانیدن نامهای همه اقوام ساکن کشور در قانون اساسی از سوی وکلا پیشنهاد گردید و پس از تصویب شامل متن قانون اساسی شد. این اقدام از سوی رئیس دولت با خوشی استقبال گردید و در بیانیهء اختتامیهء خود در لویه جرگه از وکلا ابراز سپاس کرد، که آنها به زبانهای اقوام ساکن کشور حق دادند و این کار شان را یک عمل پیشرفته توصیف کرد. ما میبینیم که در کشورهای همسایهء ما این گونه حق حتی به زبانهای در موقعیت بالاتر از زبانهای یادشدهء افغانستان داده نشده است.

اگر کرزی شخصیت فراقومی نمیبود، شده میتوانست حقوق همهء اقوام ساکن در کشور در قانون اساسی جاگیرد و به هر قوم و قشر جامعهء ما حقوق در خور حالش داده شود؟

قضاوت را به گرداننده گان و خواننده گان گرامی هفته نامهء کابل میگذاریم.

## د ای ساف په مرکز برید شوی

په کابل کې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو په یوې قرارګاه باندې پرون د یوه توغندی له لګیدو سره د سوله ساتو ځواکونو یو تن المانی پوځی ژوبل شوی دی. د کابل د ګارنیزیون چارواکو په وینا توغندی د ښار له ختیځ لوری توغول شوی اود کابل جلال اباد د عمومی سړك ترخنګ د. نړیوالو سوله ساتو ځواکونو پر مرکز لګیدلی دی. تر اوسه د دغه توغندی د توغولو پړه پر چا نده اچول شوی خو پخوا چارواکو د دغه ډول حملو پړه پر طالبانو اود ګلبدین حکمتیار د اسلامی ګوند پر اوریکو اچوله.

## په کابل کې د کشف او څار ګړندی ټولی جوړ شو

د کورنیو چارو وزارت د کابل ښار دننه او د هغه په شاوخوا کې د څار او کشف د دندو د ترسره کولو لپاره د ګړندی عمل یوه قطعه جوړه کړی ده د دغه قطعې قوماندان جنرال محبوب امیری ویلی د دوې ځواکونه به د کابل ښار په څلور لارو او د ښار د ننوتلو او وتلو په دروازو کې د مخالفینو د نفوذ او د نشیي توکو د لیږد رالیږد د مخنیوی په موخې خپلی دندی ترسره کړی دي.

## والی هرات اعزام...

بعداز درگیری های اخیر درهرات سه کندک اردوی ملی بنابه تصمیم شورای امنیت افغانستان به این شهر فرستاده شد . اما این نیروها تاهنوز به وظایف مشخص گماشته نشده اند . والی هرات درمورد موجودیت نیروهای بین المللی آی ساف درافغانستان گفت بهتر است هزینه هایکه صرف این نیروها میشود درساختن اردوی ملی وبازسازی افغانستان به مصرف برسد،اسماعیل خان گفت درزمان لویه جرگه دولت مرکزی ازوی خواست تادرکابل سمت را قبول کنداما او مناسب میداند که برای تامین امنیت درهرات باقی بماند.

## د بی وسلی کولو...

پدې ورستیو کې د DDR د پروګرام سرپرست د یوې خبری غونډی په ترځ کې په والی اسماعیل خان قوماندان عطا محمد او د کندز د شپږ نمبر قول اردو په قوماندان جنرال داود نیوکه وکړه چې دوی د خپلو وسلو او کسانود نومونو لستونه ندی برابر کړی. خو بل پلو ته، د دفاع وزارت ویاند جنرال ظاهر عظیمی دا نیوکی نه منی او وایی چې عطا محمد او د جنرال داود د بی وسلی کولو د پروګرام په کلکه ملاتړ کوی او خپل لستونه یې سپارلی عظیمی وویل د قوماندان عطا نظر دادی چې که د یوی خوا غښتلی فرقی لغوه کیږی نو بل پلو هم باید بی وسلې شی.

## له افغانستان سره...

پدغو دریو ډلو کې د دغو هیوادونو د چارواکو نه علاوه اقتصادی ماهرانو هم غړیتوب ترلاسه کړی دی.

د کنفرانس په پرانستونکی غونډه کې د قزاقستان لومړی وزیر نیکولای تنایوف څرګنده کړی ده چې د قرغزستان لپاره افغانستان سره اقتصادی مرسته خورا ارزښت لری. د ښاغلی تنایوف په وینا د دوی هیواد چمتو دی چې همدا اوس له افغانستان سره د بریښنا انرژی ودانی جوړولو او ښوونې روزنی په برخه کې مرستی وکړی.

## ایا په خامه توګه د سړکونو جوړول اوبو ته د پیسو اچول نه دی؟

دیدار

د هیواد د مرکز او ولایتونو او دغه راز د سیمه ییزو سړکونو جوړول، بیا رغاونه او ساتنه د دولت د پلانونو یوه لویه او ارزښتناکه برخه جوړوی.

لویی لارې او سړکونه د سیمو د خلکو د ارتباطاتو، سوداګریزو چارو د پرمختګ؛ پراختیا او اقتصادی غښتلتیا په برخه کې مهم رول لری.

خو له بده مرغه چې زموږ په هیواد کې د جګړو اوږد او تریخ بهیر. د ژوندانه د نورو بنسټونو د ورانولو ترخنګ په هیواد کې جوړ سړکونه هم وران او له منځه یووړل.

د انتقالی مرکزی اداری په رامنځته کیدو سره د سړکونو د بیا رغاونی خواته پاملرنه واوښته د نورو رغاونیزو کارونو تر څنګ د سړکونو بیا رغونه د مؤسساتو او انجوګانو له خوا د هغو پیسو د یوی برخی په لګولو سره پیل شوه چې د نړیوالو مرستو څخه ورکړل شوی دی، په خامه ډول د ځینو ګوتو په شمیر سړکونو له جوړولو څخه پرته چې د کابل - کندهار سړك په اساسی توګه د بیلګی په توګه په کې شامل دی د هیواد پاتی ټول رغول شوی سړکونه په خامه توګه د کریړ او خاورو په اچولو سره رغول شوی دی چې اکثره د موسمی بارانونو پواسطه بیرته د پخوا په څیر خراب او هیواد وال بیرته له ستونزو سره مخامخ شوی دی. او له بهر څخه د پیسو او مرستو راتګ او د سړکونو د جوړولو ونډه د انجوګانو او مؤسسو په واك کې ورکول او هغه هم پداسی ډول چې له څو میاشتو وروسته بیرته خراب شی په حقیقت کې بهرنی مرسته د سړکونو په برخه کې بیرته اوبو ته اچول دی.

دا څو کاله کیږی چې یوازی د بیلګی په توګه د ننګرهار کابل په سړك خاوری او کریړ اچول کیږی د دی پرځای چې مسافرین له ستونزو خلاص شی، د موسمی بارانونو پواسطه د سړکونو د کندو او ګردونو د شته والی له امله له زیاتو ستونزو سره مخامخ شوی دی داسی ستونزی دهیواد په هره سیمه کې لیدل کیږی.

د دولت اړوندی اداری باید د انجوګانو او موسساتو له لارې په خامه توګه د خاورو او کریړو پوسطه د سړکونو رغول نه یوازی دا چې وڅاری لاړمه ده چې د رغولو د کار په پای کې یې په پاخه او اساسی توګه د سړکونو د جوړولو په برخه کې له اړونده کاری مؤسسو سره تماس ونیسی او د پخولو په هکله یې لاری چاری ولټوی. چې سړکونه د کریړ له اچولو وروسته سمدستی په پاخه ډول جوړ شی څو په راتلونکی وخت کې د سړکونو د بیا رغونی په برخه کې له ستونزو سره مخامخ نشو او په راتلونکی کې به بیا د پیسو د لګولو ونډه د رغونی په نورو برخو کې سرته ورسیږی.

متصدی صفحه : نذیر بشیر

# ورزش ضامن تندرستی

## ورزش هاکی وپیشینه آن

ورزش هاکی در کشور عزیز مان سابقه دیرینه دارد، در نقاط مختلف کشور بنام چوگان بازی‌و در مناطق کوهستانی نورستان بنام (په پچ) مشهور است که البته در نورستان سه نوع هاکی مروج است. یک نوع آن در روی برف و دو نوع آن در میدان های پست و بلند به شکل محلی و عنعنوی آن ادامه دارد و هزاران تماشاچی از آن دیدن میکنند، اما فدراسیون هاکی کشور به سطح بین المللی با قوانین بین المللی و در سال ۱۹۳۶ اولین بار انجمن المپیک افغانستان تشکیل گردید.

ولی تا اکنون دست اندرکاران این ورزش اقدامی به تدویر کورسهای مربی گری حکمیت نه کردند که سبب عقب مانی هاکی در کشور گردیده گرچه جنگ های خانمان سوز چندین ساله نیز تاثیرات خود را داشته است. اما بودند علاقمندان این ورزش با حالت دلسوزی نگذاشتند شعله این ورزش خاموشی گردد که در میان فدراسیون مختلف کشور بزرگترین قربانی را هاکی داده است.

خوشبختانه به اساس توجه مقامات کمیته ملی المپیک و دست اندرکاران این ورزش دارد دوباره زنده میگردد، که روی این پالیسی و تلاش های پیهم فدراسیون هاکی اخیراً کورس مربی گری برای نخستین بار در مقر کمیته ملی المپیک از طرف استاد بین المللی هاکی که از طریق فدراسیون اسیایی هاکی اعزام گردیده بود اغاز گردید. و ورزش کاران تیم ملی هاکی در آن شرکت فعال گرفتند. و در طی چند روز از قوانین و تغییرات که در ورزش هاکی به سطح بین المللی رونما گردیده اشنایی کامل حاصل نمودند که به یقین گفته میتوانیم در تربیه نسل جوان کشور تأثیرات مثبت خود را در روند رشد ورزش هاکی کشور بجا خواهد گذاشت و کمیته ملی المپیک از آنعده ورزشکاران که شامل کورس گردیده و فراغت حاصل نمودند صمیمانه خواهشمند است تا در تربیه نسل جوان کشور به مسوولیت تلاش ورزند و دین خود را در مقابل نسل اینده کشور ادا سازند.

قابل تذکر است که کمیته ملی المپیک در رأس رئیس کمیته ملی المپیک هنگام تدریس این کورس توجه همه جانبه نمودند، در پایان این کورس دیپلوم های فراغت توسط محترم محمد انور جگدلک رئیس کمیته ملی المپیک افغانستان به اشتراک کننده گان کورس توزیع گردید.

## د چمپین لیگ لوبی ترسره شوی

د چمپین لیگ او یا د اروپایی هیوادونو د ازادو کلپونو د جام د لوبو د نیمه پای لوبی د تیری سه شنبی او چهار شنبی په ورځو کې ترسره شوی د سه شنبی په لوبو کې د پرتگال پورتو تیم د یوه پینالتی گول په وهلو سره لوبه یو د صفر په مقابل کې د هسپانیی د لاکرونا د تیم په کور کې وګټله اوپه دی چمپین لیگ د جام د فاینل لوبی ته یې لار ومونده د چهارشنبی د ورځې په لوبو کې چې انگلستان اف.سی چلسی او دفرانسی د ماناکو د فوتبال د تیمونو ترمنځ د چلسی په کور کې وشوه لوبه دوه د دوو په مقابل کې مساوی پای ته ورسیده خو د ای. اسی ماناکو تیم چلسی ته یې په ماناکو کې دری د یوه په مقابل کې ماته ورکړه د تګ او راتګ په لوبو کې د زیاتو امتیازونو به لرلو سره د لوبی ورونکی وګټل شو او په دی توګه د اروپا د ازادو کلپونو جام یا چمپین لیگ د وروستنی یا فاینل لوبه به د اروپا د فوتبال د اتحادیی د پریکړی له مخی د جرمنی د شلکه په ستیدیوم کې د ای. اس ماناکو او د اف.سی. چلسی ترمنځ ترسره شی د یادونی وړ ده چې د ماناکو د تیم ترینر د فرانسی د ملی تیم پخوانی لوبغاړی دی پنخه دیرش کلن او د فرانسی د کال د ترینر لقب یې ترلاسه کړی دی.

## د نړیوال المپیک لوبو ته بوره تیاری نیول شوی

په داسی حال کې چې د اتن د نړیوال المپیک د لوبو پیل ته څه کم دری میاشتی پاتی دی د لوبو امنیتی مسئله ترجدی غور لاندی ده تیره اونی په اتن کې د خوبمی چاودنو په کیدو سره چې ځانی تاوان یې پیښ نکړ دغه تشویش نور هم زیات شوی دی له بلی خوا د اتن اوریا مشعل به سږ کال د المپیک په تاریخ کې د لمړی ځل لپاره د نړی په پنځو وچو کې وګرځول شی او د لوبو د پیل په ورځ به په اتن کې د لوبو د پرانستلو په مراسمو کې له دود سره سم د المپیک لرغونی اوربه پری بل کړای شی د المپیک د اور مشعل به د پلان له مخی د استرالیا سیډنی څخه چې د ۲۰۰۰ کال د المپیک د لوبو کوربه و پیل شی او بیا به همدا شان د نړی له هغو ښارونو څخه چې و مخه ټاکل شوی په خاصو مراسمو سره د مشهورو لوبغاړو لخوا تیر کړای شی اوس د استرالیا د المپیک چارواکی وایی د دغه کار د امنیت نیولو له پاره باید یونان څپل امنیتی کسان واستوی خو اتن وایی چې دوی د مخه په دی اړوند د ټولو هغو ښارونو سره چې د المپیک مشعل به پکې وګرځول شوی ترونونو لاسلیک کړی دی د

یادولو وړ ده چې یونان هیواد د نړی په تاریخ کې ستر امنیتی تدابیر نیولی دی د اتن په امنیتی چارو باندی ۶،۵ میلیونه یورو چې څه کم اته میلیونه ډالره کیږی لګوی دغه پیسی د سیډنی د المپیک د امنیتی چارو د لګښت په پرتله دری برابره زیاتی دی.

## سفر شمال به پایان رسید

تیم ملی بایسکل رانی تحت سرپرستی استاد عبدالصادق صادقی رئیس فدراسیون بایسکل رانی سفر ورزشی شان را از ولایت کابل به ولایات صفحات شمال خاتمه دادند. این سفر به قطع نوار توسط سید ضیا محمود دشتی معاون کمیته ملی المپیک اغاز گردید. بعد از عبور نمودن ولایت پروان، بغلان، کندز، تخار، سمنگان، بلخ، شبرغان وسرپل در ظرف دوازده روز خاتمه یافت و دوباره موفقانه به کابل رسیدند.

هدف ازین سفر رشد و گسترش ورزش بایسکل رانی در کشور بخاطر ایجاد تیم های بایسکل رانی در صفحات شمال و انتخاب بهترین چهره های ورزشی بود.

درین سفر به تعداد دوازده ورزشکار اعضای تیم ملی و جوانان هر یک محمد اجمیر، عبدالله، حشمت الله، حبیب الله، عبدالقادر، عزت الله، مشتاق احمد، احمد خالد، عبدالواحد، ادریس و صفی الله شرکت داشتند و شامل هشت دور مسابقات بود. دور اول مسابقه از کابل اغاز و به مرکز ولایت پروان خاتمه یافت. و نتایج دور اول چنین است: عبدالقادر مقام اول، عبدالله مقام دوم، احمد خالد مقام سوم را کسب نمود. دور دوم از ولایت پروان آغاز بعد از عبور جاده های جبل السراج و سالنگ ها به ولسوالی خنجان ولایت بغلان خاتمه یافت. عبدالله حایز مقام اول، عبدالقادر و عزت الله حایز مقام دوم و سوم گردیدند. دور سوم مسابقه از ولسوالی خنجان آغاز بعد از عبور جاده های دوشی و دشت کیله گی به شهر پلخمری . شهر کهنه بغلان، بغلان مرکزی، بالاخره به ولایت کندز خاتمه یافت و مشکلترین روز مسابقه همین روز بود که تقریباً در مسافه ۲۴۰ کیلومتری در اراضی موانع صورت گرفت و چنین نتیجه به دست امد. عبدالله حایز مقام اول، حشمت الله مقام دوم و حبیب الله مقام سوم گردید. دور چهارم مسابقه که از ولایت کندزآغاز گردید به ولایت تخار خاتمه یافت که در نتیجه عبدالله صادقی حایز مقام اول، عبدالقادر و حبیب الله مقام های دوم و سوم را کسب نمودند. جوایز که از طرف امریت ورزشی ولایت تخار ترتیب گردیده بود، برای برنده گان مقام های اول دوم و سوم اهدا گردید. دور پنجم مسابقات از ولایت تخار اغاز بعد از ولایت کندز به ولایت بغلان مرکزی خاتمه یافت.

دور ششم مسابقه از بغلان مرکزی اغاز به ولایت سمنگان خاتمه یافت. دور هفتم از ولایت سمنگان اغاز به ولایت بلخ خاتمه یافت. دور هشتم از ولایت بلخ اغاز به ولایت جوزجان خاتمه یافت بعد از چند روز توقف ورزشکاران از ولایت جوزجان به ولایت سرپل اغاز نمودند و در جشن برافراشتن علم مبارک امام یحیی (ع) شرکت نمودند و مورد استقبال هزاران نفر قرار گرفتند. این تیم بعد از سپری نمودن ۴۵ روز به کابل رسید.

## ورزشکاران افغانی کاندید مسابقات المپیا

قرار است بتاریخ ۲۰ الی ۲۱ می ورزشکاران افغانی که کاندید مسابقات المپیا ۲۰۰۴ اتن هستند به یونان سفر نمایند.

در ترکیب این تیم ورزشی که تحت ریاست سید محمود ضیا دشتی معاون کمیته ملی المپیک میباشد ورزشکاران رشته های پهلوانی، بوکس، تکواندو، جودو و اتلتنیک خفیفه شامل میباشند این ورزشکاران مسابقات به مدت سه ماه از طرف کشور یونان تحت تریننگ قرار میگیرند.

بتاریخ ۱۱ می مطابق ۲۲ ثور جلسه کمیته قانون گذاری شورای المپیک اسیاد نمود برگزار میگردد.

محترم محمد انور جگدلک رئیس عمومی کمیته ملی المپیک که در سال ۱۳۸۱ عضویب به این کمیته را حاصل نمود بروز دوشنبه غرض شرکت درجلسه ورزشی به کشور کویت سفر نمودند.

## د هاکی د فدراسیون روزنیزه دوره

په کابل کې د المپیک پر ملی کمیتهٔ د هاکی فدراسیون یوه روزنیزه دوره پیل شوه دغه شپږ ورځنی روزنیزه دوره د هاکی د ښوونکو لپاره د هاکی د نړیوال فدراسیون دي یو قزاقی ښوونکو په وسیله په مخ وړل کیږی په دغه روزنیزه دوره کې د افغانستان د دفاع، کورنیو چارو د ښوونې او روزنې وزارتونو د ملی امنیت د لوی ریاست او د المپیك د ملی کمیتهی او یو شمیر د هاکی د ازادو کلپونو لوبغاړو او ښوونکو ګډون کړی دی په دغه روزنیزه دوره کې به د هاکی دغه ښوونکی ته د دغه لوبی د وروستیو پراختیاوو او بدلونونو په اړه زده کړی او لاربښوونی وشی.

## د جیدو دوه افغان لوبغاړی به د المپیا په نړیوالو لوبو کې ګډون وکړی

ټاکل شوی چې دوه کسه به د جیدو افغان لوبغاړی د ۲۰۰۴ کال د المپیا په نړیوالو لوبو کې د ګډون لپاره وټاکل شی لدی امله د جیدو یو ښوونکی له ناروی نه کابل ته راغلی چې د جیدو د نړیوال فدراسیون دغه غړی به په اتن کې د نړیوالو المپیایی لوبو لپاره دوه د جیدو افغان لوبغاړی د دریو اونیو په موده کې له ټاکلو وروسته د ۲۰۰۴ کال په المپیایی سیالیو کې د ګډون لپاره چمتو کړی او هغوی ته به د جیدو د نویو تکتیکونو او تخنیکونو په اړه لاربښوونی وکړی د یادونی وړه ده چې د جیدو نړیوال فدراسیون د اتن د ۲۰۰۴ کال په نړیوالو المپیایی لوبو کې د جیدو د دوه افغان لوبغاړو ګډون منلی دی.

# نگرانی از احتمال بد رفتاری عساکر امریکایی با زندانیان افغان

سازمان حقوق بشر و حفاظت محیط زیست افغانستان از احتمال بدرفتاری با زندانیان افغان در میدان های نظامی امریکا در افغانستان ابراز نگرانی کرده است.این سازمان با انتشار اعلامیه ای، خواستار دیدار با این زندانیان شده است.بعد از انتشار تصاویری از بدرفتاری نظامیان امریکایی با زندانیان عراقی، نگرانیها در مورد شیوه برخورد عساکر امریکا با زندانیان افغان افزایش یافته است.این نگرانیها پس از آن شدت گرفت که مقامات بلندپایه ایالات متحده امریکا و بریتانیا از برخورد عساکر شان با زندانیان عراقی رسماً پوزش خواستند.عبدالرحمن هوتکی رییس سازمان حقوق بشر و حفاظت از محیط زیست افغانستان با تکان دهنده خواندن تصاویری که از خشونت و بدرفتاری عساکر امریکایی با زندانیان عراقی منتشر شده است گفت که نگرانیهای جدی در مورد رفتار مشابه با زندانیان افغان نیز وجود دارد.آقای هوتکی افزود که شواهدی مبنی بر بدرفتاری با زندانیان افغان در میدان های امریکا در افغانستان در دست است و برخی افرادی که مدتی در بازداشت نیروهای امریکا به سر برده اند نیز این بد رفتاریها را تایید کرده اند.او گفت که شماری از زندانیان بعد از آزاد شدن از بازداشتگاههای نیروهای امریکایی، تهدید شده اند که حق ندارند پیرامون بدرفتاری با زندانیان، در بیرون از زندان با کسی سخن بگویند.رییس سازمان حقوق بشر و حفاظت از محیط زیست افغانستان اضافه کرد که این سازمان خواهان بازدید از بازداشتگاههای تحت کنترل نیروهای امریکایی در افغانستان است تا با زندانیان دیدار و گفتگو کند.چندی پیش، سازمان عفو بین الملل نیز از وضعیت زندانیان افغان در پایگاه های امریکایی در افغانستان ابراز نگرانی کرده بود.این سازمان خواهان تحقیقات جدی تر پیرامون مرگ دو زندانی افغان در میدان هوایی بگرام شده بود که تحت کنترل نیروهای امریکایی است.اگرچه مقامات نظامی امریکا در افغانستان گفته اند که تحقیقات در مورد مرگ حبیب الله و دلاور دو تبعه افغان در میدان هوایی بگرام تحقیقات ادامه دارد، اما سازمان عفو بین الملل چندین بار از کندی روند تحقیقات انتقاد کرده است.مقامات نظامی امریکا در مورد احتمال بدرفتاری با زندانیان افغان در پایگاه های تحت کنترل آنان، گفته اند که معمولا ناظران صلیب سرخ جهانی از این زندانها به طور مرتب بازدید می کنند و با زندانیان گفتگو می کنند.آنان ضمن تایید اینکه شماری از زندانیان افغان در میدان های تحت کنترول نیروهای امریکایی، جان خود را از دست داده اند، هر نوع بدرفتاری با زندانیان را رد کرده اند.گفته می شود که صدها افغان در جریان فعالیت نظامی نیروهای امریکایی در افغانستان به ظن همکاری با گروهای پیکارجو در جنوب و جنوب شرق این کشور دستگیر شده اند.

## بوش از وزیر دفاع امریکا حمایت کرد

جورج بوش، رئیس جمهور آمریکا، در دفاع از وزیر دفاع این کشور، دونالد رامسفلد که به خاطر رسوایی مربوط به بدرفتاری نیروهای آمریکایی با زندانیان عراقی به شدت برای کناره گیری از مقام خود تحت فشار قرار دارد گفته است که کار دونالد رامسفلد به عنوان وزیر دفاع آمریکا 'عالی' بوده است.آقای بوش پس از آنکه در دیداری از پنتاگون، مقر وزارت دفاع آمریکا، از سوی مقام های وزارت دفاع در جریان امور عراق قرار داده شد، از آقای رامسفلد به عنوان رهبری توانمند قدردانی کرد.این قاطعانه ترین دفاع آقای بوش از وزیر دفاع آمریکا پس از بالا گرفتن رسوایی اخیر است.این درحالی است که تازه ترین انتقادها از وزیر دفاع آمریکا از سوی خانواده های نظامیان آمریکا مطرح شده است که می گویند مقام های بلند پایه، سربازان پایین رتبه را برای شانه خالی کردن از رسوایی مستمسک قرار داده اند.همچنین نشریه "آرمی تایمز"، یک روزنامه خصوصی که با تیراژ زیاد در پایگاه های نظامی آمریکا توزیع می شود، در سرمقاله روز دوشنبه خود، عملا خواستار اخراج دونالد رامسفلد شده است.

## حملات غزه '۱۱۰۰ نفر را بی خانمان کرده'

ساکنان آبادیهای یهودی نشین و چهار دخترش در نوار غزه در هفته پیش، علیه فلسطینیان بطور جمعی دست به اقدام زده است.در همین حال اردوی اسراییل گفته است که اظهارات این سازمان اغراق آمیز است.به گفته یک سخنگوی اردوی اسراییل تخریب این خانه ها تصادفی و بدون قانون صورت نگرفته است. به گفته وی خانه های تخریب شده آنهایی بوده اند که از سوی جنگجویان فلسطینی برای حمله به اهداف اسراییلی استفاده می شده است. سازمان ملل متحد در این مدت ۱۳۰ خانه در غزه تخریب شده که به گفته مقامات این سازمان یکی از شدیدترین موارد تخریب در چند سال اخیر بوده است.به گفته این سازمان نیروهای اسراییلی پس از کشته شدن یکی از یکی از آژانسهای سازمان ملل متحد گفته است که حملات نیروهای اسراییلی به نوار غزه در طول ماه جاری میلادی ۱۱۰۰ فلسطینی را بی خانمان کرده است.بر اساس گزارش آژانس پناهندگان فلسطینی وابسته به

## امریکا بانک سویسی را ۱۰۰ میلیون دالر جریمه کرد

بانک مرکزی امریکا بانک سویسی "یو اس بی" را به خاطر نقض تحریم های تجاری امریکا، از جمله معامله با ایران، ۱۰۰ میلیون دالر جریمه کرده است.بانک مرکزی امریکا، "یو اس بی" را متهم کرده است هنگامی که-براساس قراردادی با بانک مرکزی امریکا، یک مرکز مبادلاتی را در مقر خود در سویس اداره می کرد، به ارسال دالر امریکا به کشورهای ایران، کوبا، لیبی و یوگسلاوی پرداخت.ماموریت این بانک توزیع پول های تازه امریکایی و از دور خارج کردن پول های کهنه بود، با این حال وظیفه داشت از تحویل پول تازه به کشورهایی که از سوی امریکا تحت تحریم تجاری هستند یا دریافت پول کهنه از آنها خودداری کند.بانک مرکزی امریکا می گوید بانک سویسی طی دوره ای هفت ساله مکررا این تعهد را نقض کرده است."یو بی اس" اقرار به گناه نکرد اما با پرداخت این جریمه موافقت کرد.با این حال این بانک گفت که برخی از کارمندان بانک اخراج و تعدادی نیز تنبیه شده اند.

## باشنده گان گازرگاه حاضر به ترک جایداد شان نیستند

شماري ازباشنده گان منطقه گازرگاه درشمال شرق هرات گفته اند که نمیخواهند مناطق ابائي شان را ترک کرده وبه جاي ديگري کوچ کنند. نيروهاي اسماعيل خان والي هرات ازحدود ۹۰ خانواده در اين محل خواسته اند که خانه هاي شان راترک کنند. زيرا آنها ميخواهند که محوطه ارام گاه ميرويس صادق وزير سابق هوانوردي را که چندي پيش بقتل رسيد به ساحه سبز تبديل کنند.

## نامه وارده

## د کرنې وزارت د یو تاریخي باغ په حقونو خیته اچول کیږي

د ارادې ورځپاڼې درنې اداري ته!
غواړم چې ستاسو ورځپاڼې له لارې یو پیشنهاد ورته وواېم او که انتقاد ورته وواېم ولیکم او یو د سترګو لیدلی حال درته وواېم په تیرو جګړو کې زموږ په وطن کې ډیره تباهي راغلې وه، ټولې دولتي هغه ابادۍ چې د جګړو په سیمو کې وې اکثره یې خرابې شوې ورانې شوې د ښوونځیو ودانۍ ورانې شوې، پلونه او روغتونونه وران شول یعنې هر څیزې چې دولتي ملکیتونه وو هغه چور او چپاول شول.
د ننګرهار د خوګیاڼو په ممله کې یو تاریخي باغ دی چې له سلو جریبونو څخه په زیاته ځمکه کې جوړ شوی دی دغه باغ شاه جهان پاچا د خپل زوی (دارا) لپاره جوړ کړی وو نوموړی باغ په ۱۰۵۶ هـ.ق کال د شعبان په میاشت کې جوړ شوی دی. نوموړی باغ د تاریخ په اوږدو کې د تفریح ځای و، په نوموړي باغ کې د امیر حبیب الله خان په وخت کې عصري تعمیر جوړ شو او د امان الله خان په وخت کې ورته د ټیلفون سوچپورد راغی د ننګرهار د کانال اکثره نیالونه له همدغه باغ څخه وړل شوي اوس هم په زرونو نیالونه په کې شته د جهاد په کلونو کې د سیمې د خلکو له خوا دغه باغ پداسې حال کې چې تر جلال اباد پورې ساحې د مجاهدینو په ولکه کې وې دغه باغ وساتل شو.
د سیمو خلکو او د سیمې قوماندانانو په خپل اولسي زور سره دغه باغ له وچیدو او چور څخه وساته په افغانستان کې دغه یوازینی تاریخي باغ دی چې د شاه جهان په نقشه باندې پاتې شوی، د دې ترڅنګ تقریباً ۳ کیلومتره لیرې د تپې په نامه یوه غونډۍ ده چې د غونډۍ په اړخ کې د دولت له خوا د صبر او ناجو ونې پخوا کینښودل شوې دي.
د سیمې خلکو په هغه ورځ چې زه د مملې باغ ته تللی وم راته وویل چې د تپې تر شا دولتي ځمکې وې اوس د تپې ځمکې خلکو نیولې او شخصي کړې یې دي د ستر باچایي باغ حقه اوبه چې د خوګیاڼو د هاشم خیلو له خوړ څخه د مملې باغ ته په لویه سرکاري ویاله کې راځي د نګړ خیلو د خلکو تر زور لاندې راغلي دي.
خلکو هغه لویه ویاله چې دوه متره سور لري له دواړو خواوو څخه تنګه کړې او وخت نا وخت د وسلو په زور د باغ اوبه اړوي، دغه راز څو ځلې د سیمې خلکو حکومت ته شکایت او عریضې کړې دي چې د ننګرهار د خوګیاڼو ولسوالۍ د دولتي ځمکې او باغ د اوبو په هکله سرنه خوږوي هر کال په باغ کې تاریخي صبرونه، چنارونه او نیالونه وچیږي ان دا چې وچې ونې په اجاره ورکول کیږي.
د سیال بینو لپاره د ښنلو اوبه نه پیداکیږي.
دا لیک مې ځکه ولیکلو چې دا دولتي ملکیت دی د ننګرهار د زراعت رئیس غیر مسلکي او په اصل کې معلم دی باید چې د زراعت د ملکیت پوښتنه یې کړې وای خو پدې برخه کې څوک سرنه خوږوي دا لیک مې درته ولیکلو که څیرې د کرنې وزارت ورته توجه وشي، خبر شوی یم چې امریکایانو د زراعت له وزارت سره په میلیونونو ډالره مرسته کړې ده چې د ځنګلونو او باغونو د جوړولو او رغونې په برخه کې یې ولګوي.
هیله لرم چې د کرنې د وزارت دغه لیک په غور سره ولولي.
چې له یوې خوا د دغه تاریخي باغ د اوبو او زراعتي ځمکې د بیرته راخپلولو په برخه کې او دغه راز د باغ د باغوانانو د زیاتوالي په باره کې پاملرنه وکړي ځکه چې په څو تنو باغوانانو باندې دومره لوی تاریخي باغ نه شي سنبالیدلی موږ د دې په ځای چې نور باغونه جوړ کړو خپل تاریخي جوړ شوی او ساتل شوی باغ راڅخه خرابیږي.
محمد اکرم د جلال اباد د ښار اوسیدونکی

اراده
زیر نظر هیات تحریر انتشار میبابد
مؤسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : ظهور افغان
معاون: سهراب "دیدار"
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)خانه نمبر ۹۵
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشرات افغان
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین : صدیق الله "صادق" و عزیز الرحمن "گوهر"
موبائیل مدیر مسوول: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷ موبائیل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان قیمت یک شماره ۳ افغانی
eradadaily@hotmail.com